**<u>مطبوعاتي اعلامیه</u>**

# د ډنمارک حکومت په غزه کې نسل وژنې ته مشروعیت ورکوي

حزب التحریر- ډنمارک، د ډنمارک حکومت له لورې په فلسطین کې د عامه وژنو مشروعیت په کلکه غندي.

د اکتوبر په لسمه یوه خبریال د ډنمارک له لومړۍ وزیرې، میټ فردریکسن وپوښتل چې ایا هغه به په هیلروپ کې د صهیونیستي اشغالگرو د سفارت مخې ته د گلونو گېډۍ کېښودلو په څېر د ملکي فلسطیني قربانیانو لپاره هم گلونه کېږدي که نه.

لومړۍ وزیرې د پوښتنې په ځواب کې په غوسه وویل:

*«اسراییل د ځان د دفاع حق لري او په دې کې به ملکیان وژل کېږي. دا د پرتلې وړ نه ده او دا چې ډنمارکی خبریال داسې پوښتنه کوي؛ ماته د حیرانتیا خبره ده؛ زما په نظر دا له تاریخ څخه د هغه بې خبري ښیي.»* (TV2۱۰/۱۰/۲۰۲۳)

لومړۍ وزیرې دا خبره پداسې حال کې وکړه چې ټوله نړۍ د غزې د ښوونځیو، روغتونونو، امبولانسونو، د کډوالو کمپونو او استوگنځیو د بمبارۍ شاهده ده. د غزې د خلکو نسل وژنې ته «له ځانه د دفاع» نوم ورکول د صهیونېستانو د عامه وژنې او د غزې محاصرې ته په ښکاره مشروعیت ورکول دي.

اشغالگرو صهیونېستي سیاستوالو په غزه کې د جنگي جنایتونو د ترسره کولو او په بشپړه توگه ویجاړولو موخه په ښکاره اعلان کړې. د یهودي دولت دفاع وزیر دا څرگندونې چې فلسطینیان «انسانان نه دي» او برېښنا، اوبو، درملو او خوړو ته د لاسرسي حق نه لري؛ د ډنمارک د لومړۍ وزیرې د څرگندونو په څېر نا انساني دي.

ځکه؛ کله چې مټ فردریکسن وایې چې فلسطیني قربانیان د گلو د گېډۍ ایښودو وړ نه دي؛ دا په ښکاره د فلسطیني خلکو نا انساني کول دي.

لومړۍ وزیره پخپله له تاریخه بې خبره ده؛ ځکه چې فلسطین له ۷۵ کلونو راهیسې د صهیونېستانو لخوا اشغال دی او په دې کلونو کې یې د فلسطیني خلکو پر وړاندې نا انساني او د نه منلو جنایتونه کړي.

مونږ همدارازله صهیونېستي اشغالګرو سره د ډنمارک دولت نیږدې همکاري؛ د صهیونېستي وسلو سیستمونو پېرل او پر هغوی د ډنمارکي وسلو د پرزو پلورل غندو چې د صهیونېستي جنګي الوتکو لخوا د غزې د زړو، ښځو او ماشومانو په وژلو کې کارېږي.

## د حزب التحریر- ډنمارک مطبوعاتي دفتر

**۱۴۴۵ هـ.ق کال، د ربیع الاول ۲۸مه**

**۲۰۲۳م کال، د اکتوبر۱۳مه**

**د صدور ګڼه:۴۵/۰۳**